دویمه کچه

# جاوید او وني لرونکی ځای



**لیکوال:** وېنایک ورما
**انځورګر:** وېنایک ورما

THE YALDA HAKIM FOUNDATION
Educate-Empower-Inspire

Smile Please(Pashto), Published by Pratham Books, under a CC BY 4.0 license on StoryWeaver .



دا جاوید دی، د ونو نیالوونکی.

هغه د ونو لرونکو ځایونو سره مینه لري ځکه چې دا له ژوند څخه ډک وي.

بې ونو ځایونه هغه ډېر خپه کوي، ځکه چې دا د مړو شیانو څخه ډک وي.



کلونه وړاندې، جاوید د ستر براهماپوترا سیند په غاړو ګرځېدو چې هغه یو ستر، بې ونو ځای ولید.

دا وچ او تود و. شګه میده او لارې لارې وه.



لارې لارې شګه؟ څومره حېرانوونکې ده.

هغه د ښه نظر اچولو لپاره نږدې ورغلو.

اوه، دا خو نو لارې نه وې! په ځمکه باندې بې شمېره ماران ګرځېدل!

د تېرې شپې سیلابونو به ارومرو دوی غاړې ته راوړې وي، جاوید فکر وکړ.



**دا ماران د عادي مارانو په څېر نه رغړېدل، ښوېدل او نه غلچکي ګرځېدل. کله چې جاوید د دوی ترمنځ ګرځېدو، دوی هیڅ نه پرشېدل، نه تښتېدل، نه یې د ده د چیچلو هڅه وکړه. دوی بیخي د زړو پړو په څېر پراته وو، ستړي او بې حرکته.**
**”بېچاره ماران! دوی د ګرمۍ له امله مري! کشکې دوی یو څه سیوری درلوده چې تر لاندې یې دډه اچولی وای! کشکې دې یې ونو ځای کې یو څو ونې وای!“**



جاوید د مارانو د مړه کېدو ننداره و نه شو زغملای! دې ننداري هغه دومره شدید خپه کړ چې هغه کښېناست او په ژړا یې لاس پورې کړ.

خو هغه ژر په خود شو. ”نوره ژړا بس دی. سر له همدا اوس څخه: کوښښ او کوښښ!“

هغه پورته شو، او خپل کلي ته په منډه ولاړ او د بانس تېغونه یې راټولول پیل کړل څومره چې یې په خپله کڅوړه کې ورلای شول.
”عادي نیالګي به په توده شګه کې زرغون نه شي، خو بانسونه به زرغون شي. بانس ډېر قوی دی!“



جاوید تېغونه خاره ځمکې ته راوړل او هر ځای کرلو باندې لاس په کار شو. دا یو ډېر سخت او تود کار و، او کلونه یې ونیول.

په یو دوبي کې به د سیند د اوبو اندازه کمېده، او په بل کې به سیلابونه راوتل، کله کله به یې ډېره شګه راوړه او کله کله به یې شته هم له ځانه سره وړله. درانه بارانونه راتلل او تلل. خو جاوید نیال کولو ته ادامه ورکړه.



د وخت په تېرېدو سره، بانسونو ريښې وکړې او په غځېدو شول. څومره به چې غځېدل، سيورى به يې جوړولو، او سيوري حشرې راوستلې.

حشرو په ځمکه کې سوري وکړل او د بانس ونو لاندې ځمکه په بدلېدو شوه. وچ او سپين غني او خړ شول، او مړه شګه په ژوندۍ خاوره بدله شوه.

جاوید نو نور غمژن نه و. خو هغه خوښ هم نه و.

هغه خپل د بانس ځنګله شاوخوا نظر واچاوه او فکر یې وکړ، ”د یو څو ونو ځای ښه دی، زه پوهېږم. خو څومره به ښه وای چې دا د ډېرو زیاتو ونو ځای وای!“ دې نظر د هغه احساسات راوپارول.

نو جاوید خپل کلي ته ولاړ او نور تخمونه او بوزغلي راټولول یې پیل کړل. هغه ۳ غټې کڅوړې له بانس، شوې، توت، بیکاڼې، بېرې، چینار، نښتر، ولې، انځر، سپیدار، زنغوزي، یوکلیپټس، کیکر، ګلاب، رامبېل چامبېل او داسې نورو ونو او بوټو څخه ډکې کړې. ”دا چې اوس زمونږ د څو ونو ځای ښکلې خړه خاوره لري، مونږ دلته دا ټول او نور نیالولای شو!“



جاوید خپل نوي بوزغلي او تخمونه د یو څو ونو ځای ته راوړل او ګېر چاپېره يې وکرل.

دا یو سخت کار و، د هغه ملا خوږه شوه، او ډېر کلونه يې ونیول. نارنجي او شنه اسمانونه ارغواني او ګلابي شول، او کلي په ښارونو بدل شول. باد له ګرد او خاورې ډک شو، او سیند خړ شو. خو د جاوېد ملګرو حشرو د خاورې په اړولو/قلبه کولو کې مرسته وکړه، او د هغه دنګو بانسونو هغه ته سیوری او سړه هوا برابر کړل. او جاوید نیالولو ته ادامه ورکړه.



په کم وخت کې، د هغه بانس، شوه، توت، بیکاڼه، بېره، چینار، نښتر، وله، انځر، سپیدار، زنغوزي، یوکلېپټس، کیکر، ګلاب، رامبېل چامبېل او د هغه نور ټول نیالګي راوټوکېدل، ریښې یې پیدا کړې او په غټېدو شول.

څومره چې هغوی غټېدل، هغوی به نوي تخمونه شیندل، او نوي تخمونو به، په نوبت سره، ریښې کولې. تېغونه په تنو (ډډونو) بدل شول، تنو (ډډونو) ښاخونه زرغون کړل، او ښاخونه د اسمان په لور وختل.



د یو ځو ونو ځای، چې یو وخت فقط یوه شاړه دښته وه، د ډېرو ونو په یوه ښکلي او ښېرازه ځای بدل شو.

خو د ونو اړونده ډېرو مخلوقاتو پرته نو د ډېرو ونو ځای څه مانا لري؟ کله چې یو راغلو، نور یې په تعقیب راورسېدل.



لومړی، مارغان راغلل.

هغوی له نژدې او لېرې ځایونو څخه ډله ډله راغلل چې د جاوید د ونو ځای کې خپلې ځالې جوړې کړي.
په دغه مارغانو کې ټپوسان او ماهي خور مارغان او لګ لګ او هیلۍ شاملې وې. او خزنده خورې مرغۍ او خراړې او شمتولې او توررۍ مارغان هم.



وروستي، ځناور راغلل.

هغوی په ټوپونو او خېزونو او په ګډا او خېرامانه خېرامانه راغلل تر څو د ډېرو ونو ځای کې خپل کورونه جوړ کړي.
په دې کې مېښې او هوسۍ او سوی او ګبیون بیزوګان وو. او فیلان او پړانګان او اویز آسونه هم.



په پای کې، ماران راغلل.

هغوی رغړېدول، ښوېدل او غلچکي ګرځېدل چې د جاوید ونو په سیوري کې ځانونه ساړه کړي.

کله چې جاوید ماران ولیدل، هغه کښېناست او له سترګو کې د خوښۍ اوښکې توی شوې، هغه دومره خوښ و چې آن د مارانو له خوا له چیچل کېدو یې هم ډار و نه کړ.



د جاوید د ونو ځای په بڼکو او مخوکو، په پنجو او لکیو او نیښونو ډک شوی و.

هرې خوا ته داغونه او د اوبو شړپهار و، پټۍ او ځلېدنې وې، او زرغون او شنې ساحې وې. د ونو ځای، بالاخره، یو ځنګل و. او جاوید یو خوشحاله سړی و.

بیا جاوید یو بل فکر وکړ. ”ډېرې ونې په یوه
ځای کې ښه ده، زه پوهېږم.
خو څومره به ښه وای چې په هر ځای کې
ډېرې ونې وای!“

نو هغه د تخمونو خپله کڅوړه واخیسته او د نړۍ سفر یې پیل کړ. چېرته چې به تلو،
جاوید به په هره ښاره کې چې ده به لیدله، د تخمونو په کرلو لاس پورې کاوه.
او هغه کرل. او هغه کرل. او هغه کرل.

خو په نړۍ کې ډېر ښاره ځایونه دي. اوس د ونو
درلودونکو ځایونو په په پرتله یې ونو ځایونه ډېر
دي.
دا د ژور خپګان مسئله ده، خو دا ځل جاوید
لاس تر زنې نه کښېني او نه ژاړي.



جاوید کرل کوي.



او کرلو ته ادامه ورکوي.

او نور هم کري.

د ټولو ځنګلونو بېرته احیاء کول به یو سخت کار وي.

د سمندرونو سطحې په لوړېدو شوې دي، او بادونه ساړه شوي دي. ښارګوټي په ښارونو بدل شوي دي، او جاوید زړېږي.

خو هغه همداسې کرل کوي. او کرل کوي. او کرل کوي.



جاوید به تر هغې کرلو ته ادامه ورکوي تر څو چې ټوله نړۍ خوشحاله، او د ډېرو ونو ښکلی ځای ګرځېدلې نه وي.



## جاوید په واقعي ژوند کې

جاوید ملائي پاینګ یو محافظه کار او د پدماشري مډال، چې د هندوستان دولت له خوا اعطاء کېدونکیو تر ټولو لوړو ملکي ویاړونو څخه دی، ترلاسه کوونکی دی. جاوید د آسام ایالت په ماجولي کې اوسېږي.

جاوید په ۱۶ کلنۍ کې، د مړه کېدونکو مارانو چې د براهماپوترا سیند غاړې ته اوبو راوستلي وو، په لیدو سره د غمژن کېدو له امله، په ساحه کې د یو شو ونو د کرلو پرېکړه کوي. هغه له بانسونو سره د یوه څو ونو په کرلو پیل وکړ او په خوارۍ او زحمت سره د نیالګي په نیالګي کښېنولو سره یې یو بشپړ ځنګل زرغون کړ. دا د ۱۹۷۹ کال کیسه وه.

په راتلونکیو ۳ لسیزو کې، جاوید او د هغه د ونو نیال وکولای شول په شاړو دښتو کې په ځمکه کې بدلون راولي. ۵۵۰ هیکټاره شګلنه تراړه اوس تکه شنه، ګڼ ځنګل او د یو شمېر حیواناتو او نباتاتو، د فیلانو، پړانګانو، بیزوګانو، هوسیو او د ځایي او مهاجرو مارغانو ګڼ شمېر انواعو په ګډون، کور دی. جاوید هره ورځ په دوامداره توګه له خپل ځنګل څخه لیدنه او پالنه کوي، او چېرته چې تش ځای ووینې هلته ونې نیالوي.



د آم يوې وني سره غېږېدل:

د وني نيالولو فعاليت

همدا اوس دې آم وخوړ؟ خوښ دې شو؟ بل غواړې؟بې شکه، ته کولای شې هټۍ ته ولاړ شې او يو آم واخلې. خو د هغه آم تخم (زړی) چې تاسې همدا اوس وخوړ کارول او پخپله يو څو مېوې منځته راوړل يو لا ډېر خوندور (او وړيا!) کار دی. تاسې بس وخت او زغم ته اړتيا لرئ.

لومړی، خپل کور ته څېرمه د تشې ځمکې يوه ښايسته ټوټه پيدا کړئ. له ملګري، ورور/خور يا يو بالغ کس څخه غوښتنه وکړئ چې له تاسې سره د زړي، چې تاسې د ځمکې په هغه ټوټه کې ساتلی، په کرلو کې مرسته وکړي. مخکې له دې چې تاسې وګورئ چې زړی په نيالګي بدل شوی، ښايي دا انتظار، اوه کول او نظارت کول يو شمېر اونۍ وخت ونيسي، نو انديښنه مه کوئ او بيړه خو قطعاً و نه کړئ.

کله چې ستاسې زړی تېغ ووهي او د آم په یوه سالم نیالګي کې بدل شي، د لا ډېر انتظار کولو، اوبه کولو او نظارت کولو لپاره چمتو شئ. پام مو وي چې ستاسې نیالګی د حشرو، ځاروو له خوا و نه خوړل شي، یا د چا د پښو لاندې نه شي. که دا ټول انتظار ستاسې د زړه تنګون سبب کېږي، یو څو کتابونه ولولئ، یو څو سندرې ووایئ، او یو څو نور نیالګي وکرئ!

یو څو کلونه وروسته، کله چې ستاسې ونه لوړېږي، ستاسې د آم نیالګي ونه به هم له تاسې سره لوړېږي، تر څو چې په یوې سترې ونې بدل شي چې ورته وختلای شئ او تر لاندې یې ساعت تېرې وکړای شئ. دا نو هغه وخت دی کله چې واقعي خوند پیلېږي. په دې وخت کې، ستاسې ونه کې به خپل آمونه کېدل پیل شوي وي چې تاسې او ستاسې ملګري یې خوړولای شئ. تر دې غوره به یې دا وي چې دغه آمونه به ژر آم خوښوونکي مخلوقات خپل ځان ته جذبول پیل کړي: لکه مارغان، مېږیان، نولي (ډانګلکي)، ښاپېرکان، یېزوګان، غنې او نور ډېر.

ځینې دغو موجوداتو څخه به د مېوې خوړلو ته راځي، ځینې به د ونې شیرې باندې تغذیې لپاره راځي، ځینې به یې له ګلونو څخه د اوبو څښلو لپاره راځي، او ځینې به آن د ځینو نورو موجوداتو چې د ونې شاوخوا اوړي راوړي، د خوړلو لپاره راځي. خو دا تش د خوراک مسئله نه ده. ځینې موجودات ښايي فقط د ونې په سیورې کې د ارام لپاره یا د دې په ښانګو کې د یوه سترګه خوب کولو لپاره راشي. ستاسې ونه د هر جلا جلا موجود/مخلوق لپاره د ګټه اخیستنې جلا جلا موارد لري!

هره ورځ یو څه اندازه وخت دا کتلو لپاره ولګوئ چې څوک ستاسې د آم ونې ته راځي، د ورځې په کوم وخت کې راځي، او څه کوي؟ څه چې تاسې وینئ هغه په خپل د یادښت کتابچه کې ولیکئ. همدا رنګه څه چې وینئ، عکسونه یې هم واخلئ.

وګورئ چې د آم یوازې یو زړي (تخم) سره تاسې څومره کار کړی او څومره زده کړه مو کړې ده؟ آیا ونې نیالول خوند نه کوي؟ اوس تصور وکړئ جاوید به د ونو ډک یو پوره ځنګل په کرلو کې څومره خوند اخیستی و؟

# لاربښودونکي پوښتني

1. جاوید څه وکړل کله چې هغه یو تش بې ونو ځای ولید؟ هغه چې څه وکړل تاسې یې په اړه څه نظر لرئ؟ د جاوید موخه څه وه کله چې هغه وویل "نوره ژړا بس دی. سر له همدا اوس څخه: بس کوښښ او کوښښ!"؟
2. جاوید په څومره وخت کې تش بې ونو ځای د ګڼو ونو ځای او شنیلۍ کې بدل کړ؟ آیا بدلونه کله کله وخت نیسي؟ ولې؟
3. ځنګل وهنه/پرېکونه څه شی دی؟ لاملونه یې څه دي؟ آیا ستاسې هیواد له ځنګل وهنې څخه کړېږي؟ څنګه مونږ د ځنګل وهنې مخه نیولای شو؟
4. آیا تاسې ځانله یا کوم بل چا سره کله یوه ونه کرلې ده؟ د ورېنې غټېدو څومره وخت ونیو؟ دې تاسې ته څه احساس درکړ؟
5. کله چې ستاسې په ټولنه کې کومه ستونزه/مسئله وي، آیا تاسې د حل کولو لپاره یې تر نورو مخکې لاس په کار کېږئ؟ آیا تاسې باور لرئ چې یو تن بدلون راوستلای شي؟ ولې؟ ولې نه؟